نظرمحمد مطمئن

۲۰۱۴/۰۷/۲۸

# کابل بانک ته ورتګ، ډار او ویره

زما ډیری ملګري له دي سر ټکوي چي کابل بانک ته ورتګ يي مجبوريت دی، هرکله چي بانک ته ځي بانک ته تر ننوتلو وروسته يي ويره او ډار تر هغه وخت پوري وي ترڅو چي د بانک له دروازي بهر لیري شي.

د اختر په رانږدي کيدو سره د کابل بانک په هره څانګه کي دومره ګڼه ګونه وي، لکه په کلي او ښار کي چي د لوي خيرات پر مهال سوالګر راټول شوي وي، فرق يي هم نشته، خپلي پيسي په سوال غواړي، نوبت نه ورکول کيږي، او يا خو نه ورته رسيږي، دکابل بانک د هري څانګي مخي ته په سلګونو کسان ولاړ وي.

ستونزه داده چي د کابل بانک مشرانو هغه وخت چي شخصي ؤ د ولسمشر کرزي د ورور محمود کرزي او د قسيم فهيم د ورور په مټ وکولای شول چي د افغان حکومت څخه داسي تړون واخلي چي د دولت د کارکوونکو معاشونه به د افغانستان بانک څخه کابل بانک ته انتقال کيږي او بيا به د دولت مامورينو ته ورکول کيږي.

بله ستونزه داوه چي لوړ پوړو چارواکو د خپلو ادارو د کارکوونکو تنخواوي غلاکولي، او يا خو اصل کي کارکونکي فزيکي موجوديت نه درلود، دهمدې غلاؤ د مخنيوي له امله هم د کابل بانک سره د ولايتونو په سطحه تړونونه لاسليک شول.

کله چي کابل بانک ډيوالي شو، له شخصي سکتور څخه دولتي اداري ته تسليم شو، دغه بانک نور هم ټکنی شو، د دولت د هري بلي اداري په ډول په کابل بانک کي اختلاس او فساد زيات شو، د عامو خلکو او مشتريانو سره تعامل زښت او نادرست شو، په کارونو کي يي ځنډ وي، مامورين يي خواب کړل، لږ يي کړل، په لږو کي يي هم هغه پربښودل چي واسطه يي درلودله او يا خو يي زاړه پسي واخستل او نوي يي د روابطو پر بناء وګمارل.

د ويري او ډار تر ټولو لويه خبره داده چي د کابل بانک ښاري څانګو ته د افغان حکومت د امنيتي ادارو کارکوونکي په يونيفورم او شخصي جامه کي تګ راتګ کوی، خپل معاشونه د بانک له ښاري څانګو څخه اخلي.

د ملي اردو، پوليسو او امنيت هره لويه اداره په خپله محوطه کي د کابل بانک څانګه لري، دا ډول امنيتي وزارتونه کابل بانک ته د لاسرسي هر ډول امکانات لري. مګر بيا هم د دوی کارکوونکي د نورو عامو خلکو په ډول د ښار په بيلابيلو برخو کي له يونيفورم سره د کابل بانک د ښاري څانګو مخي ته ليدل کيږي.

د چا د ملي اردو يونيفورم په تن وي، د چا د پوليسو يونيفورم، د چا دسرحدي عسکرو يونيفورم او بده داچي ځيني وختونه د ملي امنيت کسان هم د امنيت په يونيفورم کي پکي ليدل کيږي.

همدغه لاملونه دي چي په تيرو کلونو کي موږ د کابل بانک په مختلفو څانګو کي د ځينو خونړيو پيښو شاهدان يو، طالبانو په جلال آباد کي د کابل بانک پر څانګه بريد وکړ، ويې ويل چي په بانک کي امنيتي کسان ؤ.

په کندهار کي د کابل بانک په هغه څانګه طالبانو بريد وکړ چي امنيې کسانو ته يې معاشونه وېشل، په هرات، کابل او ځينو نورو ولايتونو کي ورته حملي د کابل بانک په ښاري او امنيتي څانګو شوي دي.

طالبانو وار له مخه د کابل بانک اداري ته په ولايتونو کي ګواښ کړي، چي پر هغو څانګو به حملي کوي چي دولتي مامورينو (امنيتي کسانو) ته پکي معاشونه ورکول کيږي

اوس چي په کابل، کندهار، هرات، پکتيا، کندز، مزار او د ولايتونو په مرکزونو کي د کابل بانک مخکي ته ډيري ملکي کسان ولاړ وي، تر څو د اختر د خرڅ له پاره له بانک څخه پيسي ترلاسه کړي، تر څنګ يي هره خوا په پوځي يونيفورم کي امنيتي کسان هم د معاش اخستلو له پاره ولاړ وي، همدا لاملونه دي چي عام افغانان ويره لري چي ممکن د کومي پيښي قرباني به شي.

هغه طالب چي د جنګ له پاره کابل او يا بل لوی ولايت ته ځان رسوي، که هغه د کابل بانک په مخکي د پوځيانو او پوليسو لوی کتار ووينی او حمله پرې وکړي، يقينا چي ډيری قربانيان به پکي ملکي خلک وي.

افغان دولت او د دولت امنيتي ارګانو ته په کار ده چي خپل پوځيان، پوليس، سرحدي عسکر، دملي امنيت کارکوونکي او اربکيان مهار کړي، هغوی پري نه ږدي چي د کابل بانک هغو ښاري څانګو ته ولاړ شي کوم چي د ملکي افغانانو له پاره جوړي شوي دي. دوی اړ کړي چي په خپلو ادارو کي معاش واخلي او يا هغو بانکونو ته مراجعه وکړي چي د امنيتي کسانو د معاش وېشلو له پاره ځانګړي شوي دي.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ

ما د یوه پوځي څخه پوښتنه وکړه چې تاسي ولي د کابل بانک ملکي څانګو ته ځئ، ولي په خپلو اډو کې د کابل بانک څخه پیسي نه اخلئ؟ هغه وویل چې هلته په بانک ډیر رش وي، موږ ته نوبت نه رسیږي، کله چې ملکې څانګې ته ورشو، د بانک مامورین هم زموږ لحاظ کوي موږ ته نوبت ژر راکوي.
دا د حل لاره نه ده، یا خو دي امنیتي اداري د کابل بانک څانګې په خپلو آډو کې ورته زیاتي کړي او یا دي د کابل بانک د مسؤولینو سره په تفاهم داسي وختونه په ځینو ښاري څانګو کې ورته مشخص کړي چې هلته ملکي افغانان د خپلو پیسو د اخستلو له پاره په کتار کې منتظر ولاړ نه وی.
د کابل بانک مسؤولینو څخه امید دی چې د دغه بانک ښاري ملکې څانګو ته د امنیتي کسانو ورتګ بند کړي، تر څو عام ملکې افغانان له ویرې او ډاره پرته خپل حسابونه چیک کړي، او خپله راکړه ورکړه په ډاډه زړه سره سرته ورسوي.
طالبانو ته هم په کار ده چې وچ او لانده یوځای ونه سوځوي، د کابل بانک ښارې څانګې هدف ونه ګرځوي ځکه هلته عام افغانان د پیسو اخستلو او خوندي کولو په موخه ورځي.
داهم ممکن ده چې ځینې نړیوالي ځانګړي کړی د امنیتي کسانو د شتون او موجودیت څخه ناوړه ګټه پورته کړي، هلته د عامو افغانانو په منځ کې چاودني وکړي ځکه هغوی ته هر افغان د دوی دښمن ښکاري. او پړه به یې بیا پر افغانانو ځکه ورواچوي، وبه وایې چې وسلوالو په امنیتي کسانو برید کړی چې ډیری قربانیان یې ملکي افغانان دي.
د کابل بانک شرمونکې ستونزه خو داهم ده چې د اې ټي ایم په نوم کوم صندقونه (د پیسو ورکولو ماشینونه) چې دوی په بېلابېلو برخو کې نصب کړي، البته ډیر یې د بانکو سره څنګ کې وي، په یادو ماشینونو کې هم په دي ورځو کې پیسې نه موندل کیږي، ملګري مې راته وویل چې د کابل پوهنتون کابل بانک څانګې ته ورغلم، ماسټر کارډ راسره ؤ چې خپلې پیسې پرته له انتظار څخه د پیسو ورکولو ماشین څخه ترلاسه کړم، هغه هم یواځې په ورځ کې ۳۰۰۰۰ افغانۍ سرې اخستلای شي، هلته یو اوږد کتار د اې ټي ایم ماشین ته ولاړ ؤ، امنیتي کسانو ویل چې په ماشین کې پیسې خلاصې شوي.
افغانستان ته له هره لورې بلاوې راغلي، په داخل او خارج کې موږ ډول ډول ستونزې لرو، امید دی چې د کابل بانک ستونزې ته به چاروکې، امنیتي ادارې او د دغه بانک مسؤولین متوجه شي، چې د ښارې څانګو څخه پوځیان، پولیس او د امنیتي ادارو کسان منع کړي، تر څو په بانکونو د حملو ویره د عامو سوداګرو له زړه ووځي.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ